# آرګ پاڼه

اته ورځنۍ ګڼه

www.gmic.gov.af

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: شعبان المعظم ۳مه، کال ۱۴۴۶ هجري قمري


## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با والی ولایت نیمروز

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با محترم شیخ مولوی محمد قاسم خالد والی ولایت نیمروز دیدار نمود.

در این دیدار نخست محترم شیخ مولوی محمد قاسم خالد والی ولایت نیمروز صحبت نمود و راجع به وضعیت حکومتداری، امنیتی و اجتماعی در آن ولایت و...

۵

## د څلور هیوادونو ترمنځ د رېلي - اقتصادي دهلېز د تړون غځېدل



تولګټو وزارت وايي چې، د افغانستان، اوزبیکستان، قرغیزستان او چین ترمنځ د اقتصادي رېلي دهلېز هوکړه د ۲۰۲۵ کال لپاره هم غځول شوې ده.

د دغه وزارت وياند محمد اشرف حق‌شناس وايي چې د دغه وزارت مرستيال اوزبیکستان ته د خپل سفر په لړ کې دغه هوکړه لاسلیک کړې ده.

د ويلو ده چې، دغه رېلي اقتصادي دهلېز له چين، قرغيزستان او اوزبیکستان څخه په تېرېدو، د افغانستان له...

۵

## هیواد کې پر بزګرو ۴۵ زره ټنه اصلاح شوي تخمونه وېشل شوي



په روان کال کې په ټول هېواد کې پر کروندګرو ۴۵ زره ټنه اصلاح شوي تخمونه وېشل شوي دي. د کرنې وزارت وياند مصباح الدين مستعين وايي چې د کرنې د میکانیزه کولو لپاره پر کروندګرو ۱۰۰ زره ټنه کیمیاوي سره هم وېشل شوې ده.#

## د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزراء د ايران اسلامي جمهوريت د بهرنيو چارو وزير سره وکتل



د افغانستان اسلامي امارت رئيس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخند د ايران اسلامي جمهوريت د بهرنيو چارو وزير محترم ډاکترسيد عباس عراقچي سره چې د لوړپوړي پلاوي په مشرۍ کابل ته راغلی و، په ارګ کې وکتل.

په پيل کې، محترم الحاج ملا محمد حسن اخند محترم عراقچي او ورسره پلاوي ته ښه راغلاست ووايه او د دواړو مسلمانو او ورونو هيوادونو ترمنځ يې د ډيپلوماتيکو، سياسي او اقتصادي اړيکو د پياوړتيا او پراختيا لپاره د دغو سفرونو...

۲

## افغانستان در ده ماه گذشته به ارزش ۵۱۸ میلیون دالر میوه خشک صادرات داشته است



اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری می‌گوید که در ده ماه گذشته به ارزش ۵۱۸ میلیون دالر امریکایی میوه خشک افغانستان به کشورهای مختلف صادر شده است. به گفته مسئولان این اتاق، بیشتر این صادرات جلغوزه سیاه بوده که افزون بر دیگر کشورها، بخش زیاد آن به چین صادر شده است...

۲

## ده‌ها پروژه عام المنفعه در بلخ تطبیق شده است







ده‌ها پروژه ساخت شبکه های آبرسانی و بند های کوچک آب در ۱۰ ماه گذشته در بلخ تطبیق شده است. مسئولان وزارت...

۲

## د افغانستان بانک: نوسانات پولی امر عادی است؛ مردم نگران نباشند

د افغانستان بانک می گوید که نوسانات در بازارهای پولی در دنیا، یک امر طبیعی است و مردم نباید نگران باشند. این بانک، با پخش خبرنامه یی می گوید که منابع مالی کافی در اختیار دارد و جهت تامین ثبات قیمت‌ها، نقدینگی و رفع نیازهای اسعاری بازارهای پولی و مؤسسات مالی افغانستان اقدامات لازم را انجام خواهد داد.#

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په کابل کې د قطر له شارژدافير سره وکتل

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د قطر سفارت له شارژدافير ښاغلي دکتور مُردِف القاشوطي سره وکتل.

د دغه ليدنې پر مهال دواړو لورو د کابل او دوحې ترمنځ د اقتصادي اړيکو د پراخولو په اړه خبرې وکړې...

۲

## پیشرفت ۸۰ درصدی فاز چهارم راه‌آهن هرات-خواف



مسئولان محلی هرات می‌گویند که کار ساخت بخش نخست فاز چهارم راه‌آهن هرات-خواف بیش از ۸۰ درصد پیش‌رفت داشته است. به گفته آنان، این بخش که ۴۳ کیلومتر...

۲

## امضای قرارداد 1.5 میلیون دالری برای ساخت ۱۴ سایت مخابراتی در برخی ولایت‌ها

۵

## انعکاس افتتاح پروژه‌های عظیم در کشور مسئولیت رسانه‌هاست

از آنجا که رسانه‌ها به معلومات و اطلاعات لازم خبری نیاز دارد و از آنجا که افغانستان در این روزها شاهد بیشترین فعالیت‌های اقتصادی، توجه به زیرساخت‌ها و کارهای زیربنایی و نیز افتتاح پروژه‌های عظیم عام‌المنفعه است؛ مکلفیت رسانه‌هاست بخاطر ایجاد فضای اعتماد و ساختن وطن به هموطنان در انعکاس این دستاوردها با روی کار گرفتن پلان‌های متنوع و ابتکار و جذابیت نگاه مخاطب، رول مهم خویش را مثل گذشته ادا نمایند.

مولوی نعیم الحق حقانی
رئیس مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

## سرمقاله

# پارنډې برېښنا بند؛ د باثباته پرمختګ پر لور ګام

پنجشیر ولایت، چې د خپلو ښکلو منظرو او بډایه کلتوري میراثونو له امله مشهوره ده، له اوږدې مودې راهیسې انرژۍ ته د لاسرسي په برخه کې له سختو ننګونه سره مخ دی. پارنډې بند په یاد ولایت کې د دغې سترې ننګونې اساسي حل لاره ده. د پنجشیر ولایت اوسېدونکو د دغه بند له جوړېدو مخکې په دودیز ډول د انرژۍ د تامین لپاره د لرګیو او فوسیل څخه استفاده کوله، چې دا چاره نه یوازې د ځنګلونو د لمنځه وړلو سبب شوې، بلکې چاپېریال یې هم زیانمن کړی دی.
اسلامي امارت په پنجشیر ولایت کې د پارنډې بند پروژه پیل کړه ترڅو له دې لارې له یوې خوا، د سیمې خلکو ته دوامداره انرژي تامین کړي او له بل پلوه، د ځنګلونو د بېرته احیاء کولو او د چاپېریال د خوندیتوب په برخه کې اساسي او عملي ګامونه پورته شي.
پارنډې بند په هېواد کې د باثباته برېښنا د تولید او تامین په برخه کې د حکومت یو له هغو پرمختیایي نوښتونو څخه دی. دغه بند نه یوازې د انجنیرۍ په برخه کې یوه مهمه او ستره لاسته راوړنه ده، بلکې دا پروژه په یاد ولایت کې د ټولنیز او اقتصادي وضعیت او شرایطو په ښه کولو کې هم رغنده او اساسي رول لوبوي.
د پارنډې بند ځانګړتیاوې په لاندې ډول دي:

1. دا بند د ۴۰۰۰ کیلو واټه برېښنا د تولید ظرفیت لري، چې ۴۰۰۰ کورنیو ته برېښنا برابرولی شي.
2. دا بند د پنجشیر له سیند څخه تغذیه کېږي چې په راتلونکي کې به د اوبو د کمښت له ننګونې سره مخ نشي.
3. دا بند له عصري توربینونو څخه په ګټې اخیستنې سره، داسې جوړ شوی چې حتا د وچو موسمونو په جریان کې به هم د انرژۍ تولید وړتیا ولري.
4. د یاد بند په ګټې اخیستنې سره به د ډیزلي جنراتورونو څخه د استفادې، د لرګیو د سوځولو او د شنو خونو ګازاتو د تولید کچه په بې ساري توګه راټیټه او د چاپېریال ساتنې ترڅنګ به د شنو سیمو او ځنګلونو د له منځه وړلو مخه هم ونیول شي.
5. د دې بند په ګټې اخیستنې سره به د سیمې خلک دوامداره برېښنا ته لاسرسی پیدا او په سیمه کې به روغتیایي خدمتونه، تعلیم، ټکنالوژي او مخابرات هم ورسره وده وکړي.
6. د برېښنا شتون به په سیمه کې سوداګري او صنعتي فعالیتونه لا وهڅوي، چې له امله به یې خلکو ته د کار زمینه برابره او د کورنیو اقتصادي وضعیت به ښه شي.
7. دا بند به ټولنې ځواکمنې او ټولنیز یووالي او پرمختګ ته به لا وده ورکړي.
8. د پارنډې بند به د ورته پرمختیایي پروژو او نوښتونو په تطبیق کې د یوې کامیابه تجربې په توګه وکارول شي.
9. د پارنډې بند به په هېواد کې د انرژۍ سرچینې زیاتې او د انرژۍ د خوندیتوب کچه لوړه کړي.
10. د پارنډې بند به د برېښنایي پروژو د تطبیق په برخه کې یوه کامیابه او عملي بېلګه وي چې ورته پروژې به په کم لګښت او کم وخت کې عملي شي.

لکه څنګه چې افغانستان د بیارغونې او پرمختګ پر لور ګام پورته کړی، دا ډول پروژې به د یوه زرغون او سوکاله راتلونکي لپاره هیلې را ژوندۍ کړي او دا فرصت په مساعد کړي ترڅو د ورته پروژو په تطبیق سره، له یوې خوا د خلکو په ټولنیز او اقتصادي ژوند کې پام وړ مثبت بدلون رامنځته او له بل پلوه، د چاپېریال ساتنې په برخه کې لا اغېزناک او عملي ګامونه واخیستل شي.
واک ته د رسېدو سره سم، اسلامي امارت په هېواد کې ګڼ شمېر ملي، پراختیایي او بنسټیزو پروژو تطبیق ته مخه کړې، چې د دغو پروژو له جملې څخه یوه یې هم د پارنډې برېښنا بند پروژه ده. د نوموړې پروژې د تطبیق چارې د ۱۳۹۲ لمریز کال د غويي په ۲۸مه پیل؛ خو د یو شمېر تخنیکي ستونزو له امله ټکنۍ شوې. په تېرو درې کلونو کې اسلامي امارت د پارنډې بند د جوړولو له ټولو پړاوونو څخه په بشپړه توګه هر اړخیزه ارزونه ترسره کړه او د تخنیکي متخصصینو او انجنیرانو په ګمارنې سره د یادې پروژې تخنیکي ستونزې حل او هڅه یې وکړه ترڅو د تطبیق پرمهال کیفیت او معیار په جدي توګه په پام کې ونیول شي. د شته معلوماتو له مخې، د دغې مهمې پروژې چارې بشپړې شوي او په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.
اسلامي امارت د خپل پرمختیایي پالیسیو په رڼا کې، په هېواد کې د انرژۍ تامینولو او پراختیا ته لومړیتوب ورکړی او د دوامداره انرژۍ د تامینولو په برخه کې، مسئولینو د پنجشیر پارنډې پروژې په څېر د ګڼ شمېر نورو پروژو د تطبیق لپاره مناسب چاپېریال برابر کړی دی. اسلامي امارت د پرمختیایي پروژو د تطبیق په ټولو پړاوونو کې هڅه کوي ترڅو شته منابع په یقیني او موثره توګه وکارول شي، په ټولو تدارکاتي پړاوونو کې د منابعو د ضایعاتو او فساد مخنیوی وشي او چاره په سمه او ټاکلې موده کې ترسره شي.
سربېره پردې، د کوچنیو او لویو پراختیایي پروژو د ښه تطبیق لپاره اسلامي امارت په هېواد کې د غیر دولتي سازمانونو او تمویلوونکو ادارو ترمنځ سالمه همغږي رامنځته کړې ترڅو له دې لارې د ملي پراختیا اهدافو ته لاسرسی اسانه او شته منابع په سمه او منسجمه توګه وکارول شي.
د دې لپاره، چې د دې سترې پروژې د ساتنې او مراقبت په برخه کې د خلکو ملاتړ ترلاسه شي، اسلامي امارت د عامه پوهاوي کمپاینونه هم په لاره اچولي ترڅو له دې لارې د دغه بند د ګټو او اغېزو او همدارنګه د چاپېریال ساتنې او د سیمې د خلکو پر ټولنیز او اقتصادي ژوند باندې یې له مثبتو اثراتو خلک خبر شي.
همدارنګه، اسلامي امارت د دغه بند د جوړولو پرمهال د سیمې خلکو د ښکېلتیا له لارې هڅه کړې چې خلکو ته د کار زمینه برابره کړي. دې چارې له یوې خوا د خلکو اقتصادي ژوند کې مثبت بدلون رامنځته کړی او له بل پلوه، د پروژې په وړاندې د مالکیت او مسئولیت احساس هم د خلکو ترمنځ پیدا شوی ترڅو د سیمې خلک د دغه بند د ساتلو او ګټې اخیستنې په برخه کې له پوره دقت او احتیاط څخه کار واخلي.
اسلامي امارت د سیمې له خلکو سره په همغږۍ د دغې پروژې د امنیت په تامینولو کې هم مهم او رغنده رول لوبولی دی. د یوه باثباته او خوندي چاپېریال په رامنځته کولو سره، حکومت هڅه کړې د احتمالي خطرونو کچه په بې ساري توګه راټیټه کړي او هر هغه خنډ چې د پروژې د پرمختګ مخه نیسي هغه هم له منځه یوړل شي.
د پارنډې بند پروژې په تطبیق کې اسلامي امارت څو اړخیزه ونډه ادا کړې، چې په کې د مالي منابعو برابرول، د طبیعي منابعو ښه او سالم مدیریت، د زېربناوو پراختیا، د ټولنې ښکېلتیا او د امنیت تامینول شامل دي. پورته ذکر شوي نوښتونه د دغې مهمې پروژې په بریالي پلي کېدو کې مهم رول لوبولی، چې د دولت او خلکو د ګډو هڅو او ښې حکومتولۍ له لارې په افغانستان کې د پایداره پراختیا د ظرفیت ښودنه کوي.#

لیکنه: حشمت ناصري

## پیشرفت ۸۰ درصدی فاز چهارم راه‌آهن...



...طول دارد، قرار است تا کم‌تر از پنج ماه دیگر تکمیل شود.
همچنین، کار بخش پایانی این پروژه که تا شهرک صنعتی هرات امتداد دارد، سال گذشته آغاز شده و طبق برنامه، در یک و نیم سال آینده به بهره‌برداری خواهد رسید. راه‌آهن هرات-خواف نقش کلیدی در واردات مواد خام از کشورهای مختلف و صادرات کالاهای تولیدی هرات دارد و این مسیر شهرک صنعتی هرات را به بازارهای جهانی متصل می‌کند. این پروژه چهار بخش دارد که تاکنون دو بخش آن در ایران و یک بخش در افغانستان به بهره‌برداری رسیده است. بخش چهارم این پروژه به طول بیش از ۹۰ کیلومتر به دو قسمت تقسیم شده که کار بخش نخست آن ۸۰ درصد تکمیل شده است. کار ساخت بخش پایانی این پروژه که تا شهرک صنعتی هرات امتداد دارد، شش ماه پیش آغاز شده و قرار است طی هژده ماه آینده به بهره‌برداری برسد.#

## د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء د ایران اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو...



...د زیاتوالي غوښتنه وکړه.
د ایران د بهرنیو چارو وزیر محترم سید عباس عراقچي له افغانستان سره د ایران تاریخي، دیني او اقتصادي اړیکو ته په اشارې وویل، خوښ یوو چې له څلورو لسیزو وروسته په افغانستان کې سراسري امنیت ټینګ شوی او په لوړه کچه د ډیپلوماتانو منل او د اړیکو پالل د دې ښودنه کوي، چې ایران د افغانستان اسلامي امارت سره پیاوړې اړیکې لري.
ښاغلي عراقچي وویل، د ایران امنیت او ثبات د افغانستان په امنیت او ثبات پورې تړلی دی او په افغانستان کې وروستیو پرمختګونو دې نتیجې ته رسولي یوو، چې له اسلامي امارت سره باید همکاري نوره هم پراخه شي.
د ایران د بهرنیو چارو وزیر په یاد هیواد کې د افغان کډوالو ستونزو ته د رسیدګۍ او د اوبو موضوع ته په اشارې وویل، دواړه موضوعات باید د همکاریو د پراختیا لامل شي او ایران په ابرومندانه ډول د غیر قانوني افغان کډوالو ستنولو ته ژمن دی.
نوموړي وویل، ایران هېڅکله د افغانستان په داخلي سیاست کې د مداخلې نیت نه لري او د اوبو ستونزې د حل لپاره یې د افغانستان او ایران ترمنځ په بشپړ ډول د هلمند د سیند د اوبو تړون د تطبیق غوښتنه وکړه.
د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخند د ایران او افغانستان ترمنځ د پلاویو د تګ راتګ زیاتېدو غوښتنه وکړه او وې ویل، اسلامي امارت د تفاهم له لارې له ایران سره د مشکلاتو د حل غوښتونکی دی.
محترم الحاج ملا حسن اخند وویل، د تفاهم او ورورګلوۍ په فضا کې ژوند او د اړیکو پالل به د دواړو ورونو هیوادونو د اړیکو پیاوړتیا او د ملتونو د هوساینې لامل وګرځي.
محترم رئیس الوزراء وویل، د اوبو په موضوع کې افغانستان هیڅکله ایران ته د ضرر رسولو هوډ نه لري او په دې برخه کې د ښه نیت پر اساس تعامل کوي. محترم الحاج ملا حسن اخند د ایران له لوري له افغان کډوالو سره د اسلامي او ورورګلوۍ اصولو پر اساس د چلند غوښتنه وکړه او وې ویل، د تاریخ په اوږدو کې په لویه پیمانه د اقتصادي مسایلو له مخې له افغانستان څخه ایران ته د ورغلو افغان کډوالو د اخراج مدیریت په لنډه موده کې امکان پذیره نه دی او په دې برخه کې یې له ایران څخه د تدریجي اقداماتو غوښتنه وکړه. محترم رئیس الوزراء په ایران کې د افغان کډوالو د نیولو او ځورولو لړۍ ته په اشارې وویل، کله ناکله د افغانانو اعدام هم عامه احساسات راپاروي، نو باید د ښه ګاونډیتوب پر اساس ورسره د مهربانۍ له مخې چلند وشي.#

## ده‌ها پروژه عام المنفعه در بلخ تطبیق...

...احیا و انکشاف دهات می گویند در ۱۰ ماه گذشته سال روان، ۱۸ شبکه آبرسانی و ۹ بند کوچک آب در مرکز و ولسوالی های بلخ ساخته شده و هزار خانواده از آب آشامیدنی و زراعتی مستفید شده اند. به گفته مسئولان این وزارت، این پروژه ها با هزینه ۱۳۶ میلیون افغانی در ولسوالی های مختلف ولایت بلخ، تطبیق شده است.#

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په کابل کې د قطر...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د مذاکراتو پر مهال د قطر له کوربتوب څخه مننه وکړه او د قطر له دولت او پانګوالو یې وغوښتل څو په افغانستان کې د پانګونې له موجودو فرصتونو استفاده وکړي او په دې اړه اسلامي امارت د پوره همکارۍ ډاډ ورکوي. د قطر شارژدافیر ښاغلي مُردِف القاشوطي د خپلو خبرو پر مهال وویل، قطر له افغانستان سره د دوه اړخیزو اړیکو پراخولو ته لېواله دی. ښاغلي القاشوطي زیاته کړه، دوی د دوحې او کابل ترمنځ د مسافر وړونکو او کارګو الوتنو پر زیاتوالي کار کوي او همدا راز به د قطر دولت له لوري په نیږدې راتلونکي کې د کندهار په میرویس روغتون کې د ۴۰۰ نویو بسترونو جوړولو کارونه هم عملاً پیل شي. نوموړي وویل، قطر له افغانستان سره په تعلیمي برخه کې همکارۍ ته چمتو دی او همدارنګه به له افغانانو سره د مرستو په موخه په کابل کې د قطر خیریه بنسټ هم فعالیت پیل کړي.#

## افغانستان در ده ماه گذشته به ارزش ۵۱۸ میلیون دالر میوه خشک...



...در همین حال، وزارت صنعت و تجارت گفته که سال گذشته حجم صادرات جلغوزه سیاه به ۹۷۰ تُن به ارزش ۱۲ میلیون دالر بوده است. مسئولان این وزارت می گویند که بیشتر صادرات به کشورهای منطقه و همسایه انجام می‌شود.
عبدالسلام جواد آخندزاده، سخنگوی وزارت صنعت و تجارت در این مورد می گوید: صادرات جلغوزه سیاه طی سال ۲۰۲۴ به وزن ۹۷۰ تُن به ارزش حدوداً ۱۲ میلیون دالر به کشورهای چین، پاکستان، هندوستان، عربستان صعودی، امارات متحده عربی، انگلستان و دیگر کشورها صورت گرفته است. از سویی هم، عبدالطیف نظری، معین وزارت اقتصاد، می افزاید: سیاست امارت اسلامی صادرات محور است. اگر در حال حاضر واردات هم وجود دارد، به خاطر نیازمندی‌های مردم افغانستان است. برمبنای این سیاست، ما به عنوان نمونه بیش از پنج میلیون دالر توسعه صادرات در قسمت میوه خشک تنها به کشور چین داشتیم.
گفتنی است که بیشتر اقلام صادراتی افغانستان را مواد معدنی، پنبه، گیاهان دارویی، میوه‌های خشک و تازه، قالین و زعفران تشکیل می‌دهد.#

PANA ARG
Islamic Emirate of Afghanistan
Govt. Media and Information Center
www.gmic.gov.af
Issue #58

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)
Contact Number:
+93 (0) 202100633
Email:
info@gmic.gov.af
Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foreign Affairs, Kabul, Afghanistan

# Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan Meets with the Minister of Foreign Affairs of the Islamic Republic of Iran



The Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan, Mullah Mohammad Hassan Akhund, met with the Minister of Foreign Affairs of the Islamic Republic of Iran, Dr. Seyed Abbas Araghchi, who arrived in Kabul at the head of a high-level delegation.
At the outset, Prime Minister Mullah Mohammad Hassan Akhund...ContP#4

# Muttaqi: IEA Seeks Dignified Relations with All Nations, Including the United States of America

The Acting Minister of Foreign Affairs, Mawlawi Amir Khan Muttaqi, has affirmed that the Islamic Emirate of Afghanistan (IEA) aspires to establish dignified and respectful relations with all countries, including the United States of America, ensuring mutual recognition and the preservation of both parties' honor.
He further stated that should Washington seek political and economic engagement with Kabul, the Islamic Emirate has no objections to...ContP#4

# Islamic Emirate: Misuse of Remaining U.S. Weapons and Military Equipment is Strictly Prohibited

The Islamic Emirate has firmly refuted Pakistan's allegations that American weapons left in Afghanistan are being misused.
According to the Deputy Spokesperson of the Islamic Emirate, all military assets, including weapons and equipment, have been securely stored, and strict measures are in place to prevent any unauthorized use. He reiterated that no individual or entity is permitted to exploit these resources for illicit purposes, categorically dismissing Pakistan's claims.
Deputy Spokesperson Mullah Hamdullah Fitrat further emphasized that Afghanistan's military assets are being systematically safeguarded, and any misuse is strictly prohibited under the authority of the Islamic Emirate. #

# Islamic Emirate: Narcotics Cultivation and Trafficking Have Been Virtually Eliminated



In response to recent remarks by an Iranian official regarding an alleged increase in drug trafficking from Afghanistan, the Islamic Emirate has categorically stated that both the cultivation and smuggling of narcotics in the country have been reduced to nearly zero.
The spokesperson for the Islamic Emirate reaffirmed Kabul's unwavering commitment to its agreements with Tehran. Mawlawi Zabihullah Mujahid...ContP#4

# Herat-Khawaf Railway Phase IV Achieves 80% Completion



Local authorities in Herat have reported that the first segment of Phase IV of the Herat-Khawaf railway project...ContP#4

# ATRA Signs $1.5 Million Contract for the Development of 14 Telecommunication Sites in Various Provinces



The Afghanistan Telecommunication Regulatory Authority (ATRA) has signed a $1.5 million contract to establish 14 new telecommunication sites in various provinces, aimed at enhancing connectivity and expanding network coverage...ContP#4

# 45,000 Tons of Improved Seeds Distributed to Farmers Nationwide



This year, a total of 45,000 tons of improved seeds have been distributed to farmers across the country. Misbahuddin Mastin, the spokesperson for the Ministry of Agriculture, has confirmed that, in addition to the seeds, 100,000 tons of chemical fertilizers have also been allocated to farmers to support the mechanization of agriculture. #

# Ministry of Energy and Water: Investment Opportunities in Renewable Energy Have Been Established

In observance of World Clean Energy Day, the Ministry of Energy and Water has highlighted its efforts to advance energy production from...ContP#4

# Prime Minister of the Islamic Emirate of Afghanistan Meets with the...



...warmly welcomed Minister Araghchi and his accompanying delegation. He emphasized the need for increasing diplomatic, political, and economic relations between the two brotherly and Muslim nations.
Minister of Foreign Affairs, Dr. Seyed Abbas Araghchi, referencing the long-standing historical, religious, and economic ties between Iran and Afghanistan, expressed satisfaction over the widespread security that has been established in Afghanistan after four decades. He noted that the high-level acceptance of diplomats and the maintenance of relations reflect Iran's strong ties with the Islamic Emirate of Afghanistan.
Dr. Araghchi emphasized that Iran's security and stability are interconnected with Afghanistan's, and recent developments in Afghanistan have led to the conclusion that cooperation with the Islamic Emirate should be further expanded.
He also addressed the challenges faced by Afghan refugees in Iran and the issue of water resources, stressing that both concerns should serve as a foundation for enhancing cooperation. He assured that Iran is committed to the dignified return of illegal Afghan refugees.
The Iranian Foreign Minister further affirmed that Iran has no intention of interfering in Afghanistan's internal affairs and called for the full implementation of the Helmand River water agreement between the two countries as a solution to the water-related challenges.
Prime Minister Mullah Mohammad Hassan Akhund underscored the Islamic Emirate's desire to increase exchanges of delegations between Iran and Afghanistan. He reaffirmed the Emirate's commitment to resolving issues through mutual understanding with Iran.
He emphasized that fostering relations in an atmosphere of mutual respect and brotherhood would not only strengthen the ties between the two countries but also contribute to the prosperity and well-being of their peoples.
Prime Minister reiterated that Afghanistan has no intention of harming Iran regarding water issues and will engage in constructive dialogue based on goodwill.
Furthermore, he urged Iran to treat Afghan refugees in accordance with the principles of Islamic brotherhood, noting that the large-scale management of Afghan refugees returning to Iran, considering the economic factors, is not feasible in the short term. He called on Iran to adopt gradual measures to address the issue.
The Prime Minister addressed the ongoing reports of Afghan refugees being arrested and mistreated in Iran, stating that the execution of Afghan nationals occasionally generates public outcry. He emphasized that such issues should be handled with kindness and in accordance with the principles of good neighborliness. #

# Muttaqi: IEA Seeks Dignified Relations with All Nations,...

...such cooperation. However, he underscored that Afghanistan will not be allowed to become a theater for geopolitical rivalries among major powers. In addition, Mawlawi Amir Khan Muttaqi expressed concerns regarding the absence of the Islamic Emirate's representative at the Organization of Islamic Cooperation (OIC) meeting in Islamabad, suggesting that this exclusion raises doubts about the meeting's alignment with Afghanistan's best interests. #

# ATRA Signs $1.5 Million Contract for the Development of 14 Telecommunication...

...According to the spokesperson for the Ministry of Communications and Information Technology, the contract has been awarded to multiple companies. Under this agreement, telecommunication sites will be constructed in Kabul, Kandahar, Paktia, Paktika, Khost, and several other provinces. The expansion of telecommunication infrastructure, particularly in remote areas, is widely regarded by citizens as a crucial step toward improving digital accessibility and communication services. Official statistics from the Ministry indicate that work is currently in progress on more than 570 telecommunication sites nationwide, with over 50 sites having recently been completed and brought into operation. #

# Herat-Khawaf Railway Phase IV Achieves 80%...

...has achieved over 80% completion. This 43-kilometer section is expected to be fully completed within the next five months.
Furthermore, work on the final phase of the project, extending to the Herat Industrial Park, began last year. According to the established timeline, this phase is anticipated to be completed and operational within the next 18 months.
The Herat-Khawaf railway plays a crucial role in facilitating the import of raw materials from various countries and the export of goods produced in Herat. This route connects the Herat Industrial Park to global markets.
The project consists of four phases, with two phases completed in Iran and one phase operational in Afghanistan. The fourth phase, which spans over 90 kilometers, is divided into two sections. The first section is now 80% complete, and construction on the final section, which extends to the Herat Industrial Park, commenced six months ago. It is projected to be completed and operational within the next 18 months. #

# Ministry of Energy and Water: Investment Opportunities in...

...hydro, wind, and solar resources.
Matiullah Abid, the spokesperson for the Ministry, affirmed that significant investment opportunities in renewable energy have been created in Afghanistan, with millions of dollars already being attracted to the sector. He further stated that the Ministry has put in place favorable conditions for investors in the renewable energy sector and expressed optimism for continued growth in these investments. According to the Ministry's data, Afghanistan currently generates 60 megawatts of electricity from solar energy and possesses considerable potential for expanding energy production from wind, solar, and hydroelectric sources. #

# Islamic Emirate: Narcotics Cultivation and Trafficking...

...emphasized, "We are actively preventing all forms of trafficking. Narcotics have been eradicated in Afghanistan, and both their cultivation and smuggling have been virtually eliminated". Previously, Iran officials, expressed concerns over drug trafficking along Iran's shared borders with Afghanistan and Pakistan, alleging that narcotics reserves still exist in Afghanistan. However, political analyst Fazl Rahman Oria highlighted that organized criminal networks in Iran continue to control substantial narcotics reserves and maintain access to them. He stressed that enhanced bilateral cooperation and coordination in counter-narcotics efforts would be instrumental in achieving more effective and sustainable outcomes. #

# Parande Hydropower Dam: A Strategic Step Towards Sustainable Development

By: Hashmat Nasiri

The Panjshir Valley, known for its stunning landscapes and rich cultural heritage, has long faced significant challenges in accessing reliable energy. The Parande Hydropower Dam represents a strategic and transformative solution to this persistent issue. Prior to its construction, the residents of Panjshir primarily depended on traditional energy sources such as firewood and fossil fuels, leading to deforestation and severe environmental degradation.
To address these challenges, the Islamic Emirate initiated the Parande Hydropower Dam project in Panjshir province, aiming to ensure a sustainable energy supply for the region while promoting environmental conservation and reforestation. This initiative is among the government's key infrastructure projects, contributing to the stable generation and distribution of electricity across Afghanistan. Beyond its engineering significance, the project is poised to play a crucial role in enhancing the region's socio-conomic conditions.

**Key Features of the Parande Hydropower Dam:**

1. The dam has a production capacity of 4,000 kilowatts, sufficient to supply electricity to 4,000 households.
2. It is fed by the Panjshir River, ensuring that future water shortages will not pose a problem.
3. The dam is equipped with modern turbines, allowing it to generate energy even during dry seasons.
4. With the dam's construction, reliance on diesel generators, firewood, and greenhouse gas emissions will significantly decrease. In addition, the project will contribute to environmental conservation and prevent the destruction of green spaces and forests.
5. The project ensures continuous electricity access for the local population, supporting healthcare, education, technology, and communications.
6. The availability of electricity will stimulate business and industrial activities, creating job opportunities and improving people's livelihoods.
7. The dam will empower communities, strengthen social cohesion, and drive progress.

**Future Prospects and National Impact**

The successful completion of the Parande Dam will serve as a blueprint for future hydropower initiatives across Afghanistan, yielding the following advantages:

1. It will serve as a successful model for implementing similar developmental projects.
2. It will increase energy sources in the country and enhance energy security.
3. The project will be an efficient and practical example for future hydroelectric initiatives, enabling cost-effective and timely implementation.

As Afghanistan advances toward reconstruction and progress, such initiatives inspire hope for a sustainable and prosperous future. These projects not only generate tangible improvements in the economic and social conditions of communities but also reinforce environmental conservation efforts.

**Government's Commitment to Development**

Since assuming governance, the Islamic Emirate has focused on implementing numerous national, developmental, and infrastructural projects, with the Parande Hydropower Dam being one of them. The project commenced on May 18, 2013, but faced technical challenges, delaying its progress. The Islamic Emirate conducted a comprehensive assessment of all phases of the dam's construction and, by appointing technical experts and engineers, resolved the technical challenges while ensuring quality standards and timely completion. According to available information, this crucial project has now been completed and will soon be operational.
Under its strategic development policies, the Islamic Emirate has placed a strong emphasis on energy expansion, fostering a conducive environment for implementing similar initiatives. By ensuring the efficient and optimal utilization of available resources, measures have been adopted to minimize resource wastage and corruption, ensuring timely and high-quality project execution. Moreover, to enhance the effective implementation of both small- and large-scale projects, the Islamic Emirate has strengthened coordination with non-governmental organizations and financial institutions. This collaboration facilitates the achievement of national development objectives through structured and efficient resource management.
To foster public engagement and ensure the long-term sustainability of the dam, the Islamic Emirate has launched awareness campaigns highlighting its benefits, environmental impact, and positive socioe-conomic contributions to the local population. Furthermore, the project's implementation has actively involved community members, providing employment opportunities that have led to economic stability and a heightened sense of ownership and responsibility among local residents. In addition, the Islamic Emirate has played a crucial role in ensuring the security of the project through close collaboration with local communities. By establishing a stable and secure environment, potential risks have been mitigated, and all obstacles hindering the project's completion have been addressed.
The execution of the Parande Hydropower Dam project exemplifies the Islamic Emirate's multifaceted approach, encompassing financial resource allocation, sustainable management of natural assets, infrastructure expansion, community engagement, and security assurance. These collective efforts underscore Afghanistan's capacity for sustainable development through effective governance, strategic planning, and collaborative engagement between the state and its people. #

# د څلور هېوادونو ترمنځ د رېلي - اقتصادي دهلېز...

...حیرتان رېل پټلی سره وصلېږي.
د دغه وزارت ویاند زیاتوي چې د ۲۰۲۴ کال په لړ کې د رېل پټلی د دغه دهلېزله لارې د افغانستان او چین ترمنځ ۴۲۰۰ کانتینره توکي لېږدول شوي دي.#

# امضای قرارداد ۱.۵ میلیون دالری برای ساخت ۱۴ سایت مخابراتی...




...اداره تنظیم خدمات مخابراتی (اترا) قراردادی را به ارزش یک‌ونیم میلیون دالر از بهر ساخت چهارده سایت مخابراتی در برخی از ولایت‌ها امضا کرد.
به گفته سخنگوی وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، این قرارداد میان اترا و برخی از شرکت‌ها امضا شده که بر بنیاد آن، چهارده سایت مخابراتی در کابل، قندهار، پکتیا، پکتیکا، خوست و ولایت‌های دیگر ایجاد می‌شود.
در همین حال شهروندان، ایجاد سایت‌های مخابراتی در نقاط دوردست کشوررا یک گام مهم می‌دانند.
بر بنیاد آمار وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، در حال حاضر کار روی بیش از ۵۷۰ سایت مخابراتی در کشور جریان دارد که از این میان، بیش از ۵۰ سایت مخابراتی به تازگی به بهره‌برداری سپرده شده است.#

# دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با والی...

...نیز در مورد فعالیت‌ها و کارکردهایش خدمت معاونیت اداری ریاست الوزراء گزارش ارائه کرد.
وی گفت که مجاهدین و مسئولین ولایت نیمروز جهت خدمت رسانی به مردم و برطرف ساختن مشکلات آنان شب و روز در تلاش بوده و برای تطبیق فرامین و هدایات بزرگان امارت اسلامی آماده می‌باشند.
والی نیمروز خواست ها و پیشنهادات مردم آن ولایت را در رابطه به حل مشکل کمبود آب آشامیدنی، احداث بندهای آب و ایجاد مدارس و مکاتب با معاون اداری ریاست الوزراء شریک ساخت.
محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء، فعالیت‌ها و کارکردهای مسئولین ولایت نیمروز را تقدیر نموده، گفت که تامین امنیت و ارائه خدمات به شهروندان از اولویت های امارت اسلامی می باشد و مسئولین مربوطه در این راستا در چوکات امکانات دست داشته، اقدامات لازم را انجام خواهند داد.#

# د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري د پانګونې پر یوشمېر طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او له اجنډا سره سم د خصوصي سکټور له لوري د پانګونې وړاندې شوو طرحو په اړه بحث وشو.
دې غونډې ته په کابل او بلخ ولایتونو کې د سوداګریزو مارکېټونو، په کابل ولایت کې د میوې او سبزۍ لپاره د مارکېټ او همدا راز د رسمي اسنادو د ثبت او تایید په موخه د برېښنايي سیستم جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.
په غونډه کې له مفصل بحث وروسته ټاکل شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې څو د طرحو له وړاندې کوونکو شرکتونو سره تخنیکي مجلسونه ترسره او راپورونه یې په ټاکلو نېټو د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.#

# د ریاست الوزراء سیاسي معاونیت دفتر عمومي رئیس د بریتانیا...

...همداراز مولوي ذاکر وویل، د اسلامي امارت دریځ روښانه دی او اجازه نه ورکوي د افغانستان خاوره د کوم لوري پر ضد وکارول شي او همدارنګه افغان حکومت پخپلو ژمنو عمل کړی دی.
مولوي ذاکر د خپلو خبرو په پای کې زیاته کړه، پر اسلامي امارت نیوکې او تاوتریخوالي ته لمن وهل د حل لاره نه ده، ښه به وي چې نور هیوادونه خپلې اندېښنې په مستقیم ډول له افغان حکومت سره شریکې کړي.#

# د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون د آسیا...

...وروسته د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي ښاغلي الیکساندر ماتیو او مل پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ افغانانو څخه د ملاتړ په برخو کې د دوی فعالیتونه او کړنې وستایلې.
محترم مولوي عبدالسلام حنفي د دې په بیانولو سره چې افغانان د اقلیمي تغیراتو، طبیعي پېښو لکه زلزلې او سېلابونو له امله سخت زیانمن شوي، دغه راز زرګونه افغانان د ګاونډیو هیوادونو له لورې په اجباري توګه راویستل شوي دي.
نوموړي د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون له مسؤلینو وغوښتل چې افغان ولس او اجباري راستانه شویو مهاجرو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.#

# جلسهٔ بورد ملی غذا و ادویه تدویر یافت

جلسهٔ بورد ملی غذا و ادویه تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با اشتراک اعضای این بورد برگزار گردید.
در این جلسه، ابتدا اجرآت و فعالیت‌های مسئولین پیرامون وظایف سپرده شده مورد ارزیابی قرار گرفت.
سپس روی چگونگی کنترول کیفیت ادویه‌جات و مواد غذایی تولیدی و توریدی، جلوگیری از واردات غیر قانونی ادویه و مواد غذایی، جلوگیری از تولیدات مواد غذایی غیر معیاری داخلی، جلوگیری از واردات ادویه‌جات و مواد خوراکی غیر معیاری، تأمین مصئونیت غذایی، الزامی قرار دادن پریفورم، لیبل مکمل محصول، سند تجزیهٔ کنترول کیفیت لابراتواری و همچنان تقویت لابراتوارهای کنترول کیفیت دوایی و مواد غذایی و ترینینگ لابرانت‌ها بحث و بررسی همه جانبه صورت گرفت و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ گردید.
در اخیر این جلسه ادارات ذیربط جهت نظارت ادویه‌جات و مواد خوراکی تولیدی و توریدی در مرکز و ولایات مکلف گردیدند.#

# جلسهٔ کمیتهٔ ملی حج و عمره برگزار گردید

جلسه کمیته ملی حج و عمره تحت ریاست معاون اداری ریاست الوزرا، با اشتراک اعضای این کمیته و مسئولین د آریانا افغان هوایی شرکت و شرکت هوایی کام ایر برگزار گردید.
در این جلسه پس از بررسی همه جانبه و استماع نظریات مسئولین شرکت‌های هوایی، پیرامون چگونگی انتقال به موقع حجاج، تنظیم اوقات پروازها و عرضهٔ خدمات بهتر به حجاج بیت الله شریف تصامیم لازم اتخاذ گردید.#

# لغمان ولایت کې د لټر آباد کانال د سربند رغنیزې چارې د څه باندې ۹ میلیونه افغانیو په...

...د نوموړي کانال سربند د ۲۰ متره اوږدوالي او ۱۱ متره سور په درلودلو سره د ۹۰ هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو وړتیا لري.
په دغه پروژه کې ګڼ شمېر خلکو ته د کار زمینه برابره شوې او چارې به یې د درې میاشتو په موده کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.
د یادې پروژې چارې د ډبلیو. اف. پي سازمان په مالي لګښت د لغمان د اوبو او انرژي ریاست تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي.
د یادونې وړ ده، چې نن د لغمان ولایت په قرغه یي ولسوالي کې د اوبو ذخیرو ۱۹ پروژو رغنیزې چارې هم د څه باندې ۴۹ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې.#

# به جای انتقاد از نظام اسلامی، نظریات اصلاحی با ادارات شریک شود

سرپرست وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان گفته است که به جای انتقاد از نظام اسلامی، کوشش شود نظریات اصلاحی با ادارات ذیربط شریک شود.
بر بنیاد خبرنامه این وزارت، محترم مولوی عبدالکبیر در یک مراسم دستاربندی در ولایت خوست گفت که امارت اسلامی برای حل مشکلات در پرتو دین و به منظور تقویت نظام اسلامی، با منطقه و جهان روابط دارد و در حال حاضر روابط رسمی با بسیاری از کشورها در حال تقویت است.
وی افزود که خواسته های منطقه و جهان در مورد افغانستان با توجه به سیاست امارت اسلامی تضمین شده است و جامعه جهانی در حال حاضر نگران خاک افغانستان نیست.#

# متقي: مونږ د امریکا په ګډون له ټولو هېوادونو سره باعزته اړیکې غواړو

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست محترم مولوي امیر خان متقي ویلي: اسلامي امارت د امریکا په ګډون له ټولو هېوادونو سره داسې باعزته اړیکې غواړي، چې د دواړو خواوو وقار په کې خوندي وي.
د بهرنیو چارو وزارت سرپرست ویلي، که واشنګټن له کابل سره سیاسي او اقتصادي تعامل غواړي، اسلامي امارت کومه ستونزه نلري. نوموړی ټینګار کوي: اسلامي امارت به اجازه ورنکړي، چې افغانستان بیا د ځواکمنو هېوادونو ترمنځ د منفي سیالۍ ډګر شي.
محترم مولوي امیر خان متقي همدارنګه په اسلام‌آباد کې د اسلامي همکاریو ټولنې په غونډه کې د اسلامي امارت د استازي نه‌ګډون د غونډې په اړه د شکونو لامل وباله او وایي، چې دا غونډه د افغانستان په ګټه نه‌وه.#

# اسلامي امارت: هیڅوک له امریکا څخه د پاتې وسلو او پوځي تجهیزاتو څخه ناوړه ګټه پورته کولی نشي

اسلامي امارت د پاکستان هغه ادعاوې رد کړې، چې وايي: په افغانستان کې له پاتې امریکایي وسلو ناوړه ګټه اخیستل کیږي.
د اسلامي امارت د ویاند مرستیال وایي، چې ټولې وسلې او پوځي تجهیزات زیرمه شوي او هیڅوک اجازه نلري، چې له دې وسلو او پوځي تجهیزاتو ناوړه ګټه پورته کړي. د پاکستان دا ادعا د اسلامي امارت لخوا رد شوې ده.
د اسلامي امارت د ویاند مرستیال ملا حمدالله فطرت ویلي: د افغانستان وسلې او پوځي تجهیزات په سمه توګه ساتل شوي او هیچا ته اجازه نه‌ورکول کیږي چې ناوړه ګټه ترې پورته کړي.#

# اسلامي امارت: د نشه يي توکو کرکېله او قاچاق نږدې صفر ته رسېدلي



اسلامي امارت له افغانستانه د نشه يي توکو د قاچاق د کچې لوړېدو په تړاو د یوه ایراني چارواکي د څرګندونو په غبرګون کې وايي، دمګړۍ په هېواد کې د نشه يي توکو د کرکېلې او قاچاق کچه نږدې صفر ته رسېدلې ده.
د اسلامي امارت ویاند وايي، کابل له تهران سره پر خپلو کړو ژمنو ولاړ دی.
د اسلامي امارت ویاند، محترم مولوي ذبیح الله مجاهد وايي: موږ د هر ډول قاچاق مخه نیسو، نشه يي توکي په افغانستان کې له منځه تللي، او د نشه يي توکو کرکېله او قاچاق نږدې صفر ته رسېدلی.
تر دې وړاندې د ایران د کورنیو چارو وزارت امنیتي مرستیال علي اکبر پورجمشیدیان له افغانستان او پاکستان سره په ګډه پولو کې د نشيي توکو پر قاچاق اندېښنه څرګنده کړې وه او ادعا یې کړې وه چې، لا هم په افغانستان کې د نشه يي توکو زیرمې شته.
د سیاسي چارو شنونکی فضل الرحمن اوریا وايي: په ایران کې فعالې مافیاوې د نشه يي توکو سترې زېرمې لري، او اوس هم ورته لاسرسی لري، خو که دواړه هېوادونه وکولای شي چې د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه متقابله همغږي او همکاري زیاته کړي، نو دا به اغېزمنه تمامه شي.#

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء لوړ مقام
د دفتر عمومي ریاست
د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

ارگ پانه

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون د آسیا پاسیفیک حوزې رئیس او مل پلاوي سره د ریاست الوزراء اداري مرستیال کتنه

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون د آسیا پاسیفیک حوزې رئیس ښاغلي الیکساندر ماتیو او مل پلاوي سره وکتل.

د دې کتنې په پیل کې ښاغلي الیکساندر ماتیو د یاد فدراسیون د کړنو، فعالیتونو او برنامو په اړه د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي ته معلومات ورکړل.

د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنې نړیوال فدراسیون د آسیا پاسیفیک حوزې رئیس څرګنده کړه، دوی تر اوسه د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې د طبیعي پېښو زیانمنو، بې وزله کورنیو ته د کارموندنې او اړمنو کسانو ته د واکسین ترڅنګ د افغاني سرې میاشتې له لارې د سوري زړه لرونکو کوچنیانو د عملیاتو په برخه کې له افغانانو سره مرستې کړې دي.

ښاغلي الیکساندر ماتیو همدا راز زیاته کړه، دوی په پام کې لري لدې وروسته هم د اسلامي امارت په مرسته او همکارۍ په ذکر شویو برخو کې خپلې مرستې دوامداره وساتي...

۵

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با جمعی از علماء و متنفذین ولایت بدخشان

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با جمعی از علماء و متنفذین ولایت بدخشان دیدار نمود.
در این دیدار ابتدا محترم قاری جلال الدین به نمایندگی از دیگران راجع به اوضاع اقتصادی، اجتماعی و امنیتی ولایت بدخشان به معاون اداری ریاست الوزراء معلومات ارائه کرد.
وی گفت که در نتیجۀ زحمات و تلاش‌های مسئولین و مجاهدین امارت اسلامی، مردم ولایت بدخشان از امنیت و آرامش کامل برخوردارند و با خیال راحت به امور روز مرۀ شان می پردازند.
محترم قاری جلال الدین خواست های مردم آن ولایت را در خصوص توجه به مدارس، مکاتب، پروژه‌های انکشافی و ایجاد اشتغال در این ولایت، با معاون اداری ریاست الوزراء شریک ساخت.
در مقابل، محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء ضمن ابراز خوش‌آمدید به آنان، گفت که ارائه خدمات، حفظ امنیت و آرامش مردم از تعهدات امارت اسلامی می‌باشد و مسئولین در این عرصه‌ها از هیچ گونه سعی و تلاش دریغ نخواهند کرد.
معاون اداری ریاست الوزراء در مورد موضوعات مطرح شده از سوی بزرگان و متنفذین بدخشان، خاطر نشان کرد که امارت اسلامی با توجه به امکانات دست داشتۀ خود در زمینه، اقدامات لازم را انجام خواهد داد.#

## لغمان ولایت کې د لټر آباد کانال د سربند رغنیزې چارې د څه باندې ۹ میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې




د لغمان ولایت په دولت شاه ولسوالۍ کې د لټر آباد کانال د سربند رغنیزې چارې د ۹ میلیونه، ۳۶ زره او ۳۷۸ افغانیو په لګښت د لغمان د اوبو او انرژي رئیس محترم مولوي شیرجان راشدي او قومي مشرانو په شتون کې پیل شوې...

۵

## وزارت آب و انرژی: زمینه‌های سرمایه گذاری در انرژی‌های تجدید پذیر فراهم شده است



هم‌زمان با روز جهانی انرژی پاک، وزارت آب و انرژی از تلاش‌ها برای توسعه تولید انرژی از منابع آب، باد و خورشید خبر می‌دهد.
مطیع‌الله عابد سخن‌گوی این وزارت تاکید می‌کند که فرصت‌های سرمایه‌گذاری در بخش انرژی‌های تجدیدپذیر در افغانستان فراهم شده و تاکنون میلیون‌ها دالر در این زمینه جذب شده است.
او می افزاید: وزارت انرژی و آب شرایط مناسبی را برای سرمایه‌گذاران در بخش انرژی‌های تجدیدپذیر فراهم کرده است و امیدواریم که این سرمایه‌گذاری‌ها افزایش یابد.
بر اساس اطلاعات این وزارت، هم‌اکنون افغانستان ۶۰ میگاوات برق از انرژی خورشیدی تولید می‌کند و ظرفیت‌های قابل توجهی در زمینه تولید انرژی از منابع بادی، خورشیدی و آبی دارد.#

## جلسۀ کمیسیون اداری تدویر یافت

جلسۀ کمیسیون اداری تحت ریاست محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء و با اشتراک اعضای این کمیسیون برگزار گردید.
در این جلسه ابتدا کمیته‌های مؤظف راجع به کارکردها و اجراآت شان پیرامون وظایف سپرده شده، گزارش ارائه نمودند. سپس روی موضوعات مربوط وزارت‌های مالیه، صنعت و تجارت و کمیتۀ ملی تربیت بدنی، ورزش و المپیک بحث و بررسی همه جانبه صورت گرفت و در زمینه تصامیم لازم اتخاذ گردید.#

## د غور ولایت له یو شمېر علماؤ سره د ریاست الوزراء اداري مرستیال کتنه

د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د غور ولایت له یو شمېر علمای کرامو سره وکتل.
په پیل کې هغوی د غور ولایت د اقتصادي، اجتماعي او امنیتي وضعیت په اړه وویل، د اسلامي امارت د مسؤلینو او مجاهدینو د هڅو او کوښښونو له امله د غور اوسېدونکي په بشپړ امنیت او ارامۍ کې ژوند کوي او په ډاډ سره خپلې ورځنۍ چارې ترسره کوي.
د غور ولایت علماؤ همدارنګه د مدرسو، ښوونځیو، انکشافي پروژو او د کارموندنې چارو ته اشاره وکړه او د اسلامي امارت له مسؤلینو یې وغوښتل هغو برخو ته پاملرنه وکړي.
د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي دوی ته د ښه راغلاست پر مهال وویل، خلکو ته خدمت، د امنیت ټینګښت او د ولسونو هوساینه د اسلامي امارت له مسؤلیتونو څخه دي او مسؤلین به په دې برخو کې خپلې هېڅ راز هڅې دریغ نه کړي.
د ریاست الوزراء اداري مرستیال د هغوی د وړاندیزونو په اړه وویل، اسلامي امارت به خپلو امکاناتو ته په پام په هغه برخه کې لازم اقدامات وکړي.#

## کندهار ولایت کې د یوه کاریز د کېندلو او د یوه کانال او استنادي دېوال جوړولو پروژه د نږدې ٦میلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې



د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالۍ په بابرو کلي کې د ۱۲۰ متره په اوږدوالي سره د یوه کاریز د کېندلو او د ۱۳۰ متره په اوږدوالي د استنادي دېوال او د ۴۲۵ متره په اوږدوالي د کانکریټي کانال جوړولو پروژه د ۵ میلیونه، ۹۳۷زره او ۸۴۷ افغانیو په لګښت پیل شوې.
د دغې پروژې چارې به د ۳ میاشتو په موده کې بشپړې او د چارو په بشپړېدو سره به یې د سیلابونو د ویجاړیو د مخنیوی ترڅنګ د اوبو ضایعات کم او د نومورې کلي د اوسېدونکو ستونزې هوارې شي. د یادې پروژې چارې د ملګرو ملتونو د پراختیايي دفتر په مالي لګښت د کندهار د اوبو او انرژي ریاست تر څارنې لاندې پرمخ وړل کېږي، چې پکې ګڼو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.#

## د ریاست الوزراء سیاسي معاونیت دفتر عمومي رئیس د بریتانیا سفارت شارژدافیر سره وکتل

د ریاست الوزراء سیاسي معاونیت دفتر عمومي رئیس مولوي ذاکر الله ذاکر د افغانستان لپاره د بریتانیا د سفارت شارژدافیر رابرټ ډېکسن سره وکتل.
په دې کتنه کې، د اسلامي امارت او بریتانیا د سیاسي اړیکو او له افغانانو سره د یاد هیواد پر بشري مرستو خبرې وشوې.
په پیل کې ښاغلي ډیکسن وویل، لندن په بېلابېلو برخو کې له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکوي.
نوموړي زیاته کړه، د بریتانیا حکومت هوډ لري، ترڅو د اقلیمي بدلون مدیریت او د اغېزو راکمولو لپاره افغانستان سره مرسته او همکاري وکړي.
د بریتانیا د سفارت شارژدافیر همدا راز وویل، اړتیا ده چې اسلامي امارت د نړیوالې ټولنې برخه شي او د خبرو او بحث له لارې شته ستونزې حل شي.
د ریاست الوزراء د سیاسي معاونیت دفتر عمومي رئیس مولوي ذاکر الله ذاکر د افغانستان لپاره د بریتانیا شارژدافیر ته ښه راغلاست ووایه او له افغانانو سره یې د هغه هیواد بشري مرستې مهمې وګڼلې.
ښاغلي ذاکر زیاته کړه، اسلامي امارت له نړۍ سره مثبت تعامل غواړي او خبرو ته لومړیتوب ورکوي.
د نوموړي په وینا، دا مهال افغانستان د اقلیمي بدلون له شدیدو زیانونو سره مخ دی او په دې برخه کې یې د نړیوالو د مرستو او مسؤلیت یادونه وکړه...

۵